نویسنده: داکتر نصیر احمد زی تاریخ: 26جنوری 2024

# استبلیشمنت یا پټه قوه !




د پخواني رژيم (جمهوري نظام)، د لومړي مرستيال ورستی مرکي متن مي ولوسته. نوموړی په دې مرکه کې د (پټې قوه)، کلمه څو ځله ذکر کړې ده. دغه راز د پاکستان د حکومت د پوځ مشر جنرال عاصم منير وروستی څرګندوني چي ويلي يي دي د يوه پاکستاني ژوند د افغانستان له ټولو اتباعو سره نه پرتله کوي. دا دوه خبرې په بيلابيلو استېجونو کې شوي خو عاصم منير دا خبرې هم د پاکستان د پټې قوه په اتکا کړي دی .
په سياست کې دې پټې قوه ته استبلښمنت وايي دا هغه پياوړی او با نفوذه جوړښت ده چي حتی د ډيری ديمکوراتيکو نظامونو ترشا، ولاړ او پټ شوی دی. د نړۍ خورا ځواکمن حکومتونه چي د نظام سياسي جوړښتونه او د اداری صلاحيتونو خاوندان دی، په لويو او مهمو پريکړو کې چي د هيواد سرنوشت او عامه ګټې پکښې د پوښتني يا خطر لاندې وي، پرته د دې پټې قوې څخه تصميم نشي نيولی .
استبلښمنت يا پټه قوه، تشريفاتي اړخ نلری او په سياسي استېجونو کې هم ورته ځای نشته مګر د يو هيواد د اساسي شريان يا قاعدې په حيث پيژندل کيږي. استبلښمنت هغه دوه مخي توږی ته ورته ده چي دواړه لوري تيز او پريکونکي وي. دا په دې معنی هغه کسان چي د استبلښمنت غړي دې دخپل هيواد د ګټو پخاطر له ټول انساني ارزښتونو څخه سرغړونه جائزه ګڼي. دوی ته يوازې د هيواد بقا او ملي ګټې مهمي شميرل کيږی، دا که د هرڅه په بدل کې تر سره کړی .
مړينه، تشدد، ناخوالي، اقتصادي بنديزونه او د نظامي ځواک کارول که د ملکي وګړو او بې ګناه خلکو د وژني لامل هم شي دوی ته مهم او جدی ستونزه نه کڼل کيږي، دا ځکه چي دوی ته يوازې د خپل هيواد بقا، بريا او ګټې مهمي دی، بل دا چي دوی ته کوم مستقيم مسؤليت ندي متوجه او کومې خاصې مرجع ته هم ځواب ورکوونکي ندي .
هر هغه هيواد چي د خپل نظام تر شا د استبلښمنت جوړښت او شتون ولري تل پاتي بقا يی حتمي ده. که څه هم دا هيوادونه په ظاهره کې د ديموکراسي او ټاکنو تمثيل ترسره کوي خو په پايله کې دا استبلښمنت دی چي د هيواد سياسي نظام ته روح وربخښي. د نړی مهم او ځواکمنه هيوادونه لکه د امريکې متحده ايالات چي د ديموکراسي لوی تمثيل کوونکی او ناجي حکومت دی، مګر په حقيقت کې د دې ټولو تر شا د څو مهمو او غټو کمپنيو مشران ولاړ دي چي د استبلښمنت حيثيت لری او عام خلک يی نه پيژني. ددې شرکتونو مالکان دې چي په مهمو مسايلو (کورني او بهرني)، خبرې او نهايي تصميم نيسي، چي ورسته يی پرموجوده نظام عملي کوي.

همدا راز که د انګلستان نظام ته وګورو ملکه او شاهي کورنۍ، دی هیواد ته د استبلېشمنت حیثیت ورکړی. په همدې توګه عربي هېوادونو کې د استبلېشمنت جوړښت شاهي او مذهبي کورنیو پسې تړلي دي، لکه په ایران کې چې د روحانیونو ډله دواړه رولونه خپل کړي دی، استبلېشمنت او د سیاسي نظام ممثلین او واکداران داسې جوړښتونه بیا دیکتاتور ډوله نظامونه ته ورته دي. دیکتاتورنظامونو له دې اصله ځکه مبرا ګڼل کیږي چې د یوی مشخصه جریان غړي په خپله غواړي د هیواد چارې په جبر سره سمبال او پر ملت یې تحمیل کړي.

اما هغه هیوادونه چې د سیاسی نظامونه تر شا د استبلېشمنت جوړښت نلري، پایښت یې لنډ وي د بیلګی په توګه افغانستان یو د هغه هیوادونو څخه ده چې سیاسي نظامونو يي پایښت نلري. که څه هم لسیزې د مخه د ملت مخورو (ملکانو او خانانو)، شاهي نظامونو ته د استبلېشمنت حیثیت لره، خو په دې تفاوت چې دا استبلېشمنت یوازې د ملت د چوپتیا لپاره د شاهي نظام لخواه چې د هیواد سیاسي نظام یی په لاس کي لره استعمالیده .ورسته د شاهي نظام له رانسکورولو څخه دا قومي جوړښت چې کولای شو د استبلېشمنت نوم هم ورته ور کړو له منځه ولاړ، همدا وجه وه چې ورستي نظامونو ډیر ژر یو پر بل پسي رامنځته او بیا ډیر ژر رانسکوره هم شول .

افغانستان لپاره دوهم ځل د استبلېشمنت چانس هغه وقت مساعده شو چې د جهاد تر نامه لاندې هغه اجیران چې د ملت له پاکو احساساتو څخه ناوړه ګټه پورته او د یو ستر نظام په رانسکورولو کې د منطقه استخباراتو سره نه ستړېدونکي هلي ځلي وکړي. که چیری تنظیمي مشرانو دا کار نه وي کړي لکه څنګه چې داکتر نجیب الله د وقت جمهور رئیس هم دا خبره په یوه مرکه کې کړې وه، چې که چېرته جهادي مشران هیواد ته په ربښتیني توګه ژمن وئ، سیاسي میدان د دوی او ملت په اکثریت ورسره دریدل چې په دې صورت کې ملت بیا د استبلېشمنت حیثیت لوبوي شو.

نن چې د پاکستان د پوځ لوی درستیز په بې شرمی سره وایي چې د خپل هیواد د یو وکړي ژوند او آرامتیا د افغانستان د ټولو اتباعو له ژوند سره نه پرتله کوي. ددې خبرو تر شا د پاکستان هیواد نظامي قوت چې د استبلېشمنت حیثیت لري پروت دی.

د پاکستان له جوړښت سره سم انګریزانو ددې هیواد اردو ته د استبلېشمنت حیثیت ورکړي، خو به دې توپیر چې دا استبلېشمنت د نړۍ له بدنامترینه استبلېشمنتون څخه شمېرل کیږی چې یوازي موخې یی په قدرت کې پاتې کیدل دي نو هرکله چې وغواړي د هیواد د ګټو پرخلاف د پاکستان قانوني نظام رانسکوره او د خپلې خوښې کس له اردو څخه ورته معرفي کړي.

عاصم منیر ته به د دې پر ځای ښه به دا وئ چې د بلوڅو او د قبایلي سیمو د پښتنو د وژنو مخه ونیسي، کوم چې د پاکستاني پوځ له خوا د نوموړی تر مستقیمي قوماندې لاندې ترسره کیږي .

**ډاکټر نصیر احمدزی**

**د امریکا متحده ایالات**

**واشنګټن ډي سی،**

DISCOURSE OF AF